## بسم الله الرحمن الرحیم

## پوښتنې ته ځواب

## د ظلم د مخنیوي لپاره په دارالکفر کې محکمو ته تګ

**پوښتونکی: ইবনুল আযরাক**

**پوښتنه**

محترمه وروره السلام علیکم ورحمت الله! زه له تاسو څخه یوه پوښتنه کوم. د سورت النسا په ٦٠م ایت کې الله سبحانه وتعالی موږ منعه کړي یو، چې د قضاوت لپاره باید طاغوت ته ور نشو. د خلافت په نشتون کې خو ټولې اسلامي خاورې د طاغوتي مشرانو له لوري اداره کېږي. که موږ غواړو یوه شخړه حل کړو، ایا کولای شو چې د طاغوتي مشرانو محکمو ته ورشو؟ مثلا زما د کورنۍ پر یوه غړي جنسي تېری کېږي، ایا زموږ ورتګ هغو محکمو ته روا دی چې پرېکړې یې د ډیموکراتیک طاغوت پر مټ ترسره کېږي؟ دوی د اسلامي شریعت پر بنسټ پرېکړه نه کوي. الله سبحانه وتعالی موږ طاغوت ته له ورتګ څخه منعه کړي یو، ځکه چې شخړې د الله سبحانه تعالی له قانون پرته په خپل قانون سره حلوي.

جزاک الله خیرا، وروره!

**ځواب**

وعلیکم السلام ورحمت الله وبرکاته

موږ مخکې د ۲۰۰۹ کال فبرورۍ پر ۱۸ مه یوې پوښتنې ته په ځواب کې داسې لیکلي وو:

«د هغو خلکو لپاره چې په دارالکفر کې اوسېږي او هلته شرعي محکمې نه وي، دا روا ده چې له ځان څخه د ظلم د مخنیوي او له خپل حق څخه د دفاع په موخه په دارالکفر کې محکمو ته لاړ شي. البته د هغه حق لپاره چې اسلامي شریعت ده ته ورکړی وي، نه هغه حق چې د دوی قانون ده ته ورکړی وي او د شریعت خلاف وي.

د بېلګې په توګه که یو څوک له ده څخه غلا وکړي، اسلام غلا شوي شیان بیرته هغه ته ورکوي؛ له همدې امله د هغه چا لپاره چې غلا ترې شوې وي روا ده، ترڅو د خپلو غلا شوو شیانو لپاره محکمو ته لاړ شي.

بله بېلګه، که یو څوک د خپل کور د پلور بیانه ترلاسه کړي او پېرودونکی ژمنه وکړي چې پاتې مبلغ به له پلان سره سم ورکوي، خو پېرودونکی یوازې په بیانه ورکولو بسنه وکړي او پلورونکي ته د پاتې مبلغ له ورکولو ډډه وکړي یا هغه پور رد کړي. له دغه حقیقت سره چې پېرودونکي کس یاد کور پېرلی وي او اوس ژوند پکې کوي. په داسې حال کې اسلام د پلورونکي حق له پېرودونکي څخه اخلي، له همدې امله د پلورونکي لپاره روا ده چې محکمې ته لاړ شي او د خپل کور هغه پاتې بیه ترلاسه کړي، چې پیردونکی یې ردوي.

یعني د ده لپاره روا ده چې د ظلم د مخنیوي په موخه په دارالکفر کې محکمو ته لاړ شي او خپل حق تر لاسه کړي؛ په دې شرط چې دا حق په اسلامي شریعت کې هم شته وي.

له بل لوري، که حق د وضعي قوانینو له مخې ټاکل شوی وي او له اسلامي قانون سره په ټکر کې وي، نو ده ته روا نه ده چې محکمې ته لاړ شي او د شریعت خلاف حق ترلاسه کړي:

د بېلګې په ډول که یو څوک په ګډ سهامي شرکت کې ونډې لري او هغه شرکت د باطل (ناروا) تړون پر بنسټ تشکیل شوی وي. کله چې ونډه لرونکو ته د ونډې د ګټې د وېش وخت را ورسېږي او یو څوک ووایې چې د ده د ونډې ګټه تر هغه څه چې باید وی لږ ده. په داسې حال کې روا نه ده چې په دارالکفر کې محکمو ته د خپلو ونډو د پوره ګټې لاسته راوړلو په موخه لاړ شي، ځکه چې د یاد سهامي شرکت جوړښت باطل (ناروا) دی او لاسته راغلې ګټه د شریعت له نظره جواز نه لري. له همدې امله پر یو مسلمان باندې واجب ده چې د دغه ډول جوړښت لرونکي شرکت څخه ځان وباسي.

بله بېلګه، که یو څوک خپلې پیسې یوه سودي بانک ته په یوه ټاکلي اندازه سود سره ورکړي او کله چې بانک د ده ونډه ورکوي، د سود اندازه تر هغه څه لږ محاسبه کړي چې له ده سره هوکړه پرې شوې وي. په داسې حال کې هغه ته روا نه ده، چې په دارالکفر کې محکمې ته مراجعه وکړي او د پوره سلنې سود لپاره هلته ادعا وکړي او یا هم بانک اړباسي چې د سود سلنه پوره ورکړي، ځکه چې دغه حق د انسان په لاس جوړ شوي قانون وضع کړی او سودي بانکونو ته یې د فعالیت اجازه ورکړې ده، خو د اسلامي قوانینو له مخې دا کار حرام ګڼل شوی دی. له همدې امله پر مسلمان باندې واجب ده، چې له سودي بانکونو سره دا ډول هوکړه لغوه کړي.

په پای کې ویلای شو، که پر یو چا ظلم کېږي یا یو څوک له خپل حق څخه بې برخې کېږي او دا حق په اسلامي شریعت کې د ده لپاره ثابت وي، نو دی د دارالکفر په سیمه کې د خپل حق د جبران لپاه د هغوی محکمو ته تللی شي، ترڅو پر ده د ظلم مخه ونیول شي. د دې پرخلاف، که چېرې یاد حق ده ته وضعي قوانینو ورکړی وي او د اسلام خلاف وي، نو ورته روا نه ده چې د دارالکفر په سیمه کې د هغوی محکمو ته لاړ شي او خپل حق ترلاسه کړي... په هر حال، د ده لپاره غوره دا ده چې دغه ډول محکمو ته له ورتګ مخکې باید نېکو منځګړو کسانو ته لاړ شي او هڅه وکړي چې د دوی له لارې خپل حق تر لاسه کړي.» زموږ د پخواني ځواب پای.

هیله لرم چې د خپلې پوښتنې پوره ځواب به دې ترلاسه کړی وي. الله سبحانه وتعالی پوره عالم او د حکمت څښتن دی.

**ستاسې ورور، عطا بن خلیل ابوالرشته**

**۱۴ مه ربیع الاول ۱۴۴۱ هـ.ش**

**١١ مه ڎسمبر ٢٠١٩**

**ژباړن: صدیق احمدزی**